# مسیر


ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د لړم نهمه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۳۱مه | دویم کال| ۲۷۷یمه گڼه


# د گوانتانامو له زندانه خوشي شوي طالبان د سولې په خبرو کې د گډون لپاره قطر ته رسېدلي دي



۳

## د ټاکنیزو کمېسیونو ترمنځ د همغږۍ نشتون

۲ مخ

## نړیوال اسلامي پوهنتون؛ کره کیسه څه ده؟

۳ مخ


## د نړۍ سیاسي رهبران کوم ډول ټیلیفونونه کاروي؟

۵ مخ

## کتاب

۴ مخ

### گټه وټه




گټه وټه کتاب مهدي فیروزي لیکلی چې تازه حمیدالله حمیدي پښتو ژبې ته را ژباړلی دی. په دغه کتاب کې د پیسو پر ارزښت، د پیسو پر گټلو، د شتمن کېدو پر لارو چارو، سپما او په ټوله کې پر گټې وټې خبرې شوې دي.

## جاپان د افغانستان له وچکالۍ ځپلو سره ۱۰ میلیونه ډالره مرسته کوي



په کابل کې د جاپان سفیر متسوجي سوزوکا ویلي، هېواد یې په افغانستان کې د وچکالۍ ستونزه اندېښمنوونکې بولي او په دې برخه کې به له یاد هېواد سره لس میلیونه ډالر مرسته وکړي.

هغه زیاته کړې، یادې پیسې به له وچکالۍ سره د مبارزې پر کارنده چارو ولگول شي. د مستوجي په خبره، افغانستان د وچکالۍ له امله د غذایي موادو له کمښت سره هم مخ دی چې باید په دې برخه کې جدي عملي گامونه واخیستل شي. جاپان د افغانستان د بیارغونې په برخه کې له مهمو هېوادونو بلل کېږي. په کابل کې د جاپان سفارت د معلوماتو له مخې دغه هېواد په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره شاوخوا ٦میلیارد او ٦۰۰ میلیونه ډالر مرسته کړې ده.

د ملگرو ملتونو د وروستي راپور پر بنسټ له ناامنیو وروسته وچکالي هغه ستونزه ده چې له امله یې گڼ شمېر افغانان له خپلو سیمو کډه کولو ته اړ شوي دي.

## د سوېلي اسیا د مطالعاتو د بنسټ مشر: په پاکستان کې روزل کېدونکي ترهگر د سیمې په گډون ټولې نړۍ ته گواښ دي

د سوېلي اسیا د مطالعاتو اروپایي بنسټ وایي، ترهگر په پاکستان کې له خپلو خوندي پټنځایونو د سیمې او نړۍ امنیت گواښي. یاد بنسټ وایي چې له ترهگرۍ سره د مبارزې لپاره دې د سیمې په کچه واحده تگلاره جوړه شي.

د سوېلي اسیا د مطالعاتو د بنسټ رییس جنید صدیقي په جنیوا کې له ترهگرۍ سره د مبارزې په تړاو جوړې شوې غونډې ته ویلي چې د داعش او القاعده په څېر نړیوالې ترهگرې شبکې او سیمه ییزې ترهگرې ډلې لکه لشکر طیبه او طالبان په پاکستان کې روزل کېږي او د دولتي ملاتړ په درلودلو سره د خپلو ستراتېژیو د بدلولو په حال کې دي.

قریشي زیاته کړې: «هغوی چې په اروپا کې د ډیموکراسۍ بنسټونه گواښي، د سیمې او نړۍ امنیت یې له گواښ سره مخ کړی، په پاکستان کې نظامي او رواني روزنه ترلاسه کوي. دې چارې هغوی پر یوه پیاوړي ځواک بدل کړي دي.»

قریشي د جنیوا ناستې ته چې د ځینو هېوادونو مشرانو او د بهرنیو چارو وزیرانو هم پکې گډون کړی و، ویلي چې وضعیت داسې مرحلې ته رسېدلی چې په ختیځ، لوېدیځ، شمال او سوېل کې پراته ټول هېوادونه باید د ترهگرۍ پر خلاف واحد دریځ او تگلاره ولري. د امریکا د پوځ د مرکزي قوماندانۍ مشر جوزېف ووټل هم تازه پر پاکستان یو ځل بیا غږ کړی چې د ترهگرۍ پر خلاف دې کوټلي گامونه پورته کړي.


ووټل له ولسمشر غني او د ملي امنیت له سلاکار حمدالله محب سره په کتنه کې له پاکستانه غوښتي چې د ترهگرو پر خلاف دې عملي گامونه پورته کړي او په پاکستان کې دې د دغو ډلو پټنځایونه له منځه یوسي.

## پر خبریالانو برید کوونکي خپل عمل اصلاً جرم نه بولي



۲ مخ

## تیفا: استفاده از تکنالوژی بایومتریک در انتخابات مؤثر نبوده است



استفاده از تکنالوژی بایومتریک و تهیه فهرست ثبت نام رای دهندگان در روند انتخابات یک برنامه ناکارا بود.

رئیس بنیاد انتخابات شفاف افغانستان با ابراز این مطلب میگوید که در کنار این چالش ضعف رهبری و مدیریت از سوی کمیسیون انتخابات سبب زمینه سازی تقلب در انتخابات شد.

مشرانو جرگه رئیس بنیاد انتخابات شفاف افغانستان را درباره یافته های این نهاد در مورد چگونگی برگزاری انتخابات در نشست استماعیه فرا خواند.

سناتور داوود غفاری میگوید که کمیسیون انتخاباتی باید به آرای مردم حرمت بگذارند و سرنوشت مردم نباید به بازی گرفته شود. همچنان وی علاوه میکند که کمیسیون انتخاباتی باید مطابق به قانون عمل کرده و سلیقه ای برخورد نکند.

در همین حال فضل الهادی مسلمیار رئیس مشرانو جرگه میگوید: «خواست ما از کمیسیون انتخابات این است که آرای پاک و ناپاک را جدا کنند و آرای پاک که بایومتریک نشده اند، نیز باید حساب شوند و حق مردم نباید تلف شود، زیرا مردم در این روند سهم گرفته و انتخابات را مشروعیت داده اند.»

از سویی هم رئیس بنیاد انتخابات شفاف تأکید می‌ورزد که تصمیم کمیسیون مستقل انتخابات برای تهیه فهرست رای دهندگان و استفاده از دستگاه بایومتریک یک تصمیم ناکارا بوده و بر شفافیت انتخابات تاثیری نداشته است.

با این حال اعضای مشرانو جرگه تأکید می‌ورزند که اگر اصلاحات بنیادین در کمیسیون انتخابات به میان نیاید، انتخابات ریاست جمهوری نیز با چالش های زیادی مواجه خواهد شد و نتیجه آن بحران های بیشتری را ایجاد خواهد کرد.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

دریــغ

## د ټاکنیزو کمېسیونونو ترمنځ د همغږۍ نشتون

د ادارو ترمنځ د همغږۍ نشتون په افغانستان کې د دولتدارۍ یوه عمده ننگونه ده. په گڼو مواردو کې د همدې ستونزې له کبله دولتي ادارې او بنسټونه په سمه بڼه د خپلو کارونو په ترسره کولو او خلکو ته پر وخت د خدماتو په رسولو کې پاتې راځي. د همغږۍ نشتون د چارو د پېچلتیا، د کارونو د ځنډ او د منابعو د ضایع کېدو لامل کېږي. دغه نیمگړتیا دغه راز ادارې له یو بل سره له همکارۍ هم راگرځوي، په ځینو مواردو کې خو یې ان د یو بل د پرېکړو ننگولو ته هم رسوي.

ټاکنیز کمېسیونونه د دې ستونزې یو مثال دی. لا هم د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون ترمنځ هغه همغږي چې باید وی، نشته. کله چې یو کمېسیون پرېکړه کوي، بل یې په خپلو چارو کې لاسوهنه انگېري او د هغه پرېکړې له عملي کولو سره د مرستې پر ځای د هغې ننگولو ته مخه کوي. ډېر کله د دوی پرېکړې له یو بل سره په څرگند ډول په ټکر کې کوي. دا نیمگړتیا په داسې حساسو شرایطو او مهمو ادارو لکه ټاکنیزو کمېسیونونو کې ډېرې ستونزې جوړولی شي. د ټاکنیزو کمېسیونونو په برخه کې دا قضیه په ځانگړې ډول په اوسني وخت کې چې د هغوی کړنو خلک پر ټاکنو بې باور کړي، د جدي اندېښنې وړ ده.

ټاکنیز کمېسیونونه چې تر اوسه یې لا د ولسي جرگې د ټاکنو پایلې نه دي اعلان کړې او یواز څو میاشتې وروسته باید ولسمشریزې ټاکنې ترسره کړي، باید مخالفتونه یوه لوري ته کړي او د شته طرزالعملونو په رڼا کې په همغږۍ کار وکړي. د دې دواړو ادارو د شتون فلسفه د یوه او بل بشپړول دي، نه یو د بل ننگول. د ټاکنو په څېر له کړکېچه په ډکه مواردو کې د نظر اختلاف حتمي دی، خو هغوی باید دغه مخالفتونه د گډ کار له لارې له منځه یوسي، نه دا چې له یو بل څخه د رسنیو له لارې شکایتونه وکړي. که هغوی په خپل منځ کې د جوړېدو فرصت نه لري، ځنگه به خلک ډاډ ترلاسه کړي چې رایې یې په روڼتیا حسابېږي او بدلون رامنځته کولی شي. که د هغوی د کار په طرزالعملونو کې ستونزې او نیمگړتیاوې وي، باید د قوانینو په رڼا کې د حللارې ورته پیدا او د وظیفوي تداخل شونتیاوې له منځه یوسي.

که د ټاکنیزو کمېسیونونو جنجالونه او اختلافات پر وخت حل نه شي، د ټاکنو د پایلو پر مشروعیت سربېره د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره چمتووالی هم اغېزمنولی شي. پر دې سربېره دغه کار ولس نور هم پر ټاکنو بې باوره کوي. وړاندې له دې چې دا ستونزه ولسمشریزو ټاکنو ته وغځېږي، کمېسیونونو ته په کار ده چې گډ کار وکړي او شته ستونزې حل کړي.

# کرزی: امید داریم روسیه فعالانه تر با متحدین امریکا در مورد افغانستان کار کند

منبع: روزنامه vzglyad
www.afghanan.press

اشتراک حامد کرزی در نشست کلوپ والدای (Valdai) در شهر سوچی روسیه عملاً با هیچ نوع واکنشی در رسانه ها روبرو نگردید. ضمناً آن چیزی را که رییس جمهوری پیشین افغانستان اظهار نموده است، قابل توجه دقیق میباشد. آقای کرزی از روسیه در آزاد سازی کشورش از اشغال آمریکا عملاً تقاضای کمک کرده است.

**موضع‌گیری مسکو در این مورد چگونه خواهد بود؟**

باید در مورد شخصیت و کار کرد های کرزی آشنا بود. چون کرزی طی ۱۳ سال زعامت افغانستان را به‌عهده داشت: از همان آغاز تجاوز آمریکا الی خزان سال ۲۰۱٤ میلادی، زمانیکه آخرین انتخابات ریاست جمهوری برگزار گردید و کرزی حق نامزد شدن برای دور سوم در این انتخابات را نه‌داشت. از سال ۲۰۰۲ میلادی به این طرف یک و نیم دهه از آشنایی کرزی با پوتین میگذرد و اکنون آقای کرزی بعنوان یکی از تاثیرگذار ترین سیاست مداران در افغانستان دانسته میشود. آخر کرزی در بسیاری از موارد افغانستان را رهبری کرده است، چون که او رهبر و پیشوای یکی از طوایف مقتدر در اتحاد بین قبایل و اقوام پشتون ها منحیث کتله اصلی در بین مردم این کشور بوده و است. سرمایه گذاری های از سوی آمریکایی ها بالای کرزی صورت گرفت و او را به قدرت رسانید. سپس سایر اقوام و مردمان افغانستان نیز در برابر این انتخاب گردن نهادند.

تنها طالبان اند که اشغال افغانستان توسط آمریکا را نپذیرفته و بخش بزرگ از کشور را در کنترول خود دارند. آمریکایی ها در اوایل تلاش کردند خود در برابر طالبان بجنگند. ولی زمانیکه از عدم توانایی خود برای دستیابی به پیروزی در جنگ با طالبان اطمینان حاصل کردند، آنوقت، از یک طرف خریداری قوماندانان محلی و دادن رشوه به آنها پرداخته و از سوی دیگر کوشیدند تا سنگینی بار عملیات های جنگی را بر شانه های نیروهای دولتی افغانستان بگذارند.

واضح است، جنگ بین پشتون های شریک در قدرت و پشتون ها در تحریک طالبان برای خود پشتون ها غیر قابل قبول نبود، یعنی اینکه آمریکایی ها همچنان با جبهه قوماندانان محلی نیز نتوانستند در جنگ با طالبان به موفقیت های دست یابند. تا پایان سال های مبارزه شدید بر ضد تروریستان واضح گردید که باید افغانستان را ترک کرد که این موضوع از سوی بارک اوباما نامزد انتخابات ریاست جمهوری در آنوقت وعده داده شده بود.

نه اوباما و نه جانشین آن دونالد ترمپ دست به انجام چنین کاری زدند. دقیقاً ترمپ اعلام کرده بود که آمریکایی ها روی جنگ علیه طرفداران داعش در افغانستان تمرکز کرده، طالبان را به مذاکره خواهند کشاند و از تلاش ها برای ایجاد سیستم حکومت داری در افغانستان (یعنی از مداخله در امور کشور) اباء میورزند.

کرزی فوراً پس از بیانیه ترمپ در ماه اگست هر چند منحیث رییس جمهور پیشین، رییس جمهور آمریکا را شدیداً مورد انتقاد قرار داد. زیرا مدت هاست که کرزی میکوشد خود را بیشتر یک فرد مستقل جلوه بدهد. اگر این شخص هر چه بیشتر بر اریکه قدرت تکیه میزد، بیشتر به یک شخص مستقل و بخصوص به یک فرد غیر وابسته به آمریکایی ها تبدیل میگردید، اگر چه از ابتداء همزمان هم یک مهره دست نشانده و هم یک فرد پرنفوذ بود:

«جداً با استراتیژی جدید ایالات متحده امریکا برای افغانستان مخالفت دارم، زیرا این استراتیژی در مغایرت با منافع ملی کشور ما قرار دارد. این مطلب را کرزی در مصاحبه خود با روزنامه روسی زبان "IZVESTIYA" در آنوقت اعلام کرده بود. من شدیداً با افزایش نقش کمپنی های خصوصی نظامی در جنگ آمریکا در افغانستان مخالفم. این موضوع به حاکمیت ملی و قانون اساسی افغانستان لطمه زده و منجر به ادامه و افزایش خونریزی ها در افغانستان میگردد.

حالا کرزی به سوچی آمده است. در سخنرانی آن به مراجعه مستقیم به روسیه اشاره شده است یعنی همکاری کنید تا آمریکایی ها را متقاعد بسازیم که به شکست خود در افغانستان اعتراف نمایند.

امروز من یکی ار منتقدان اصلی سیاست آمریکا در افغانستان میباشم نه بخاطر اینکه از غربی ها انتقاد نمایم بلکه در حقیقت، من معتقد به دموکراسی هستم، من تحصیلکرده غرب هستم و فرهنگ غربی ها را میپسندم. ولی من مخالف با سیاست های آنها میباشم چرا که یک سیاست ناکام را در پیش گرفته و منجر به بروز مشکلات زیاد و گسترش بنیادگرایی، رادیکالیزم و تروریزم گردیده است.

من مخالف سیاست های ایالات متحده آمریکا میباشم زیرا که شبکه تروریستی دولت اسلامی موسوم به داعش زمانی در افغانستان پابه عرصه وجود گذاشت که حریم هوایی کشور و نیروی های نظامی افغان کاملاً از سوی این ابر قدرت کنترول و اداره میشد.

چگونه فرصت برای ظهور چنین پدیده بعد از ١٤-١٥ سال میسر گردید، آنهم پس از آنکه امریکا با تمام منابع و امکانات مالی خود سر از افغانستان بیرون آورد؟ چرا حالا همکاری بین المللی آمریکا مانند گذشته بچشم نمیخورد؟

اکنون در روسیه هستم. روسیه نسبت به فعالیت امریکا در افغانستان با دیده شک و تردید مینگرد. چرا چین اوضاع را از دید روسیه نظارت نمیکند؟ ایران در رابطه به عملیات های نظامی آمریکا در افغانستان مشکلات خود را دارد.

به این ترتیب، منحیث تبعهٔ افغانستان که از عمق این بازی های جهانی آگاهی دارم برای متحدین ما از ایالات متحده آمریکا ذیلاً پیشنهاد مینمایم این که:

ما همه موفق خواهیم بود در صورتیکه شما به ما بگویید که شما با شکست روبرو شده اید و ما میفهمیم روسیه میفهمد، چین این موضوع را نیز میفهمد، ایران، پاکستان، همه و هند هم میفهمند. ما علایم شکست را میبینیم. ولی اگر شما شکست را نمیپذیرید، پس چنین بازی را پایانی نخواهد بود.

یعنی اینکه کرزی برای آمریکایی ها پیشنهاد میکند که شکست خود را در افغانستان بپذیرد. اگر چه کرزی مستقیماً از خروج نیروها یادآوری نمیکند اما واضح است که همین موضوع در نظر است: «یگانه راه به پیش – ایالات متحده آمریکا در افغانستان باید شرایط جدید همکاری مشترک با مردم ما را رعایت کند.

آمریکا در افغانستان باید مجدداً با همسایه های ما و ابرقدرت های جهان، پیشتر از همه با چین، روسیه و هند با کمک اهداف کلیدی، واضح و شفاف کار نماید. با توجه به این موضوع، جامعه جهانی باید از میکانیزم افغانی برای حل تمام مشکلات موجود حمایت کند.

میکانیزم امروزی یکی از بهترین ها و مناسبترین ها میباشد که در دسترس ما قرار دارد، یعنی شورای عالی مردم افغانستان و یا لویه جرگه. امیدوار هستم، زیرا رییس جمهور روسیه همین جاست چیزهای زیادی را از دوست متحد تاریخی و همسایه خود توقع داریم که روسیه فعالانه تر با ایالات متحده آمریکا و غرب در مورد افغانستان کار خواهد کرد و دست کمک را بسوی کشور ما دراز میکند تاکه ما میکانیزم های خود را برای حل مشکلات موجود ایجاد نماییم».

آقای کرزی یکبار هم از سازمان همکاری شانگهای یادآوری نکرد. اما واضح است همین سازمان که چین، هند، پاکستان، همه کشورهای آسیای میانه و همسایه های افغانستان اعضای آنرا تشکیل میدهند، باید به تضمین کننده روند آشتی ملی در افغانستان تبدیل گردند.

خلاصه اینکه کرزی دست کمک برای حل اختلاف موجود بین افغان ها را بسوی روسیه دراز کرده. زیرا تا وقتیکه حضور نظامی امریکا در کشور ادامه داشته باشد، موضوع شریک شدن طالبان در قدرت اصلاً مطرح شده نمیتواند. طالبان آمریکا را اشغالگر میدانند، یعنی آنها باید خارج شوند و یا حد اقل تاریخ را برای خروج نیروهای خود اعلام نمایند.

روسیه در این سال برای اولین بار از ضرورت خروج نیروهای امریکایی از افغانستان یادآوری نمود. آقای ضمیر کابلوف نماینده خاص رییس جمهوری روسیه برای افغانستان اظهار داشت که برای آمریکا لازم است تا نیروهای خود را از افغانستان بیرون کند، زیرا این کشور عملاً به منبع تولید تروریزم بین المللی در سطح جهان تبدیل گردیده است.

مسکو هیچ گاهی به خروج قوت های امریکا از افغانستان عجله نداشته. اما چون عساکر آمریکا توانایی کنترول هیچ را ندارد، پس باید خارج شود. آمریکا در جنگ افغانستان شکست خورده است.

در واکنش به این، واشنگتن، مسکو را در سرگرم بودن بازی ها با طالبان و حتی اکمال تسلیحات به آنها متهم میکند، اگر چه همه میدانند که مصالحه بین کابل و طالبان و همچنان خروج قوت های آمریکا یگانه راه برای حل بحران در افغانستان میباشد. حامد کرزی از رییس جمهور روسیه خواسته تا در تسریع این پروسه کمک نماید و اما ابتداء، ایالات متحده آمریکا را مجبور کند تا به شکست خود در افغانستان اعتراف نماید. و افغان ها به تعیین سرنوشت کامل خود حاکمیت یابد. و زمینه توسعه سیاسی و ثبات منطقوی حاکم گردد.

# نی: پر خبریالانو برید کوونکي خپل عمل اصلاً جرم نه بولي

سږ کال په افغانستان کې د خبریالانو لپاره تر ټولو خونړۍ و چې یوازې په کابل کې په یوه پېښه کې نهه خبریالان ووژل شول. افغانستان بیا د نړۍ د هغو ۱۴ هېوادونو په کتار کې راغلی چې د خبریالانو د قاتلانو د محاکمې تر ټولو بده مخینه لري.

د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې «CPJ» د نړیوال معافیت د انډېکس په نوم د ۲۰۱۸ میلادي کال په راپور کې چې د دوشنبې پر ورځ خپور شوی، ویلي چې په افغانستان او ۱۳ نورو هېوادونو کې د معافیت فرهنگ حاکم دی چې خبریالان پکې په منظم ډول وژل کېږي او قاتلان یې ازاد گرځي.

له ازادو رسنیو د ملاتړ اداري یا نی رییس مجیب خلوتگر هم له دې سره موافق دی چې د اکثرو وژل شویو افغان خبریالانو عاملان ازاد گرځي.

خلوتگر ازادي راډیو ته ویلي، د افغان خبریالانو وضعیت له هغه ډېر خراب دی چې فکر یې کېږي. ده ویلي چې پر خبریالانو برید کوونکي اصلاً خپل عمل جرم نه بولي.

خلوتگر زیاته کړې: «زه فکر کوم نه یوازې دا چې د معافیت کلتور په افغانستان کې موجود دی، بلکې دغه کسان چې په خپله خبریالان وژني، دغه وژنې داسې انگېرې چې دا نه جرم دی او نه هم جنایت. دا مثلاً دیني یا ایماني یا وجداني وجیبه ده، نو دا په دې معنی چې وضعیت د معافیت د کلتور د سیطرې نه هم ډېر بد دی.»

د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې په راپور کې ویلي چې په تېره یوه لسیزه کې لږ تر لږه ۳۲۴ خبریالان په نړۍ کې وژل شوي چې په سلو کې د ۸۵ دوسیو عاملان یې نه دي محاکمه شوي.

څه باندې درېیمه برخه دغه دوسیې د افغانستان په گډون په ۱۴ هېوادونو پورې تړلې دي.

د راپور له مخې افغانستان وروسته له هغې چې په تېره اپرېل میاشت کې په کابل کې نهه خبریالان ووژل شول، بېرته په دغه لېست کې شامل شوی او پنځم ځای یې نیولی دی.

د خبریالانو د خوندیتوب د کمېټې د دغه راپور تنظیموونکې الیزابېت ویچل وایي، دې حقیقت ته په پام سره چې د هر کال په تېرېدو په دغو هېوادونو کې له مجازاتو د معافیت فرهنگ جاري دی، دا مسئله ډېره د اندېښنې وړ ده او ښیي چې د دې ستونزې ریښې څومره ژورې دي.

ویچل وایي، دغه معافیت د خبریالانو د غلي کولو او د یوې داسې فضا د رامنځته کولو لپاره چې معلوماتو ته لاسرسی نه وي، یوه اغېزناکه وسیله ده.

د خلوتگر په وینا، دا چې د دولت تر کنټرول لاندې سیمو کې د خبریالانو په وړاندې د تاوتریخوالي دوسیې سمې نه څېړل کېږي، یو اصلي علت یې د عدلي او قضایي ادارو او همدارنگه د استخباراتي او کشفي ارگانونو کمزوري او په دې برخه کې د کلکې ارادې نشتوالی دی.

د خبریالانو د خوندیتوب د کمېټې د دغه راپور تنظیموونکې مېرمن ویچل وایي، حکومتونه باید د خبریالانو د قتل او وژنو دوسیو ته لومړیتوب ورکړي او داسې یو مناسب میکانېزم رامنځته کړي چې د وژل شویو خبریالانو او د هغوی د کورنیو لپاره عدالت تامین شي.

# نړيوال اسلامي پوهنتون؛ کره کيسه څه ده؟

ليکنه: وحيدالله مصلح

په ۲۰۱۲ ز کال په خرطوم کې د اسلامي پراختيايي بانک په کنفرانس کې د هغه وخت ماليې وزير حضرت عمر زاخېلوال په غوښتنه په افغانستان کې د نړيوال اسلامي پوهنتون طرحه وړاندې شوه. دغه غوښتنه بيا په قاهره کې د اسلامي هېوادونو د همکاريو سازمان په کنفرانس کې چې مشري يې د هغه وخت مصري ولسمشر محمدمرسي کوله ومنل شوه او له اسلامي انکشافي بانک نه غوښتنه وشوه چې په افغانستان کې د دغه پوهنتون په اړه امکاني مطالعه (Feasibility Study) ترسره کړي. نوموړي بانک د همدې لپاره دوه لکه امريکايي ډالره ځانګړي کړل. د دې مطالعې قرارداد بيا وروسته د ماليزيا د نړيوال اسلامي پوهنتون له اداري سره وشو.

د پوهنتون موقعيت او امکاني مطالعه

د دغه مطالعې د ترسره کېدنې لپاره اسلامي نړيوال بانک د افغانستان له حکومت نه د ځمکې د ملکيت اسناد وغوښتل. له کره سرچينو سره سم په کابل کې د دغه پوهنتون لپاره ځمکه وپلټل شوه، لومړی د ده سبز په نوي ښار او شاوخوا سيمو کې ځمکه وکتل شوه، خو هلته حکومت ونه توانېد چې د ځمکني مافيا له لومو پوهنتون ته ځمکه بېله کړي، ورپسې پروان وکتل شو؛ هلته هم مناسب ځای تر لاسه نه شو. په بل قدم کې بيا په ننګرهار کې د غازي امان الله خان ښارګوټي سره په څنګ کې د ځمکې اوږده تراړه و ارزول شوه، هيئت لاړ او هغه ځمکه يې د پوهنتون لپاره مناسبه وبلله. دغه موقعيت د لوړو زده کړو، کرنې او ماليې وزارتونو له خوا د هغه وخت ولسمشر ته پېشنهاد شو. جمهور رييس هم ومنله او د وزيرانو شورا تصويب کړه.

د ځمکې په اړه ولسمشريز فرمان، د ځمکې عکسونه، نقشې او GPS اسلامي پراختيايي بانک ته وسپارل شول. بانک مطالعه پيل کړه، لومړنی راپور يې د ۲۰۱۷ ز کال په اپرېل کې د لوړو زده کړو وزارت ته وسپاره او نهايي راپور يې د ۲۰۱۸ ز کال په اګسټ کې د اسلامي پراختيايي بانک د کابل دفتر ته او د ۲۰۱۸ ز کال په سپټمبر کې د لوړو زده کړو وزارت ته وسپاره. د دغه وروستي راپور پر بنسټ د دغه پوهنتون ټول لګښت ۲۱۳۵۸۰۰۰۰ امريکايي ډالره تخمين شو.

له دې سره په څنګ کې د افغانستان حکومت له خپلې بودجې څخه د نوموړي پوهنتون د احاطې لپاره پنځه لکه امريکايي ډالر ځانګړي کړل او د پوهنتون د احاطې پر دېوال کار پيل شو.

د پوهنتون لپاره د موقعيت ټاکلو په اړه دوه وضاحتونه مهم دي؛ لومړی دا چې کله د ۲۰۱۳ ز کال په فبروري کې په قاهره کې د اسلامي هېوادونو د همکاريو سازمان د دغه پوهنتون د جوړولو لپاره اسلامي پراختيايي بانک ته د همکارۍ او د منابعو د متحرکولو هدايت وکړ؛ په دغه وخت کې د پلازمېنې يادونه نه ده شوې. دويم دا چې دا هم سمه نه ده چې ګنې نړيوال اسلامي پوهنتون دي حتماً په پلازمېنه کې جوړ شي او ښه بېلګه يې په بنګله دېش کې نړيوال اسلامي پوهنتون دی چې په پلازمېنه کې نه، بلکې په چېټانګو کې جوړ شوی دی.

د پوهنتون لپاره اسلامي پراختيايي بانک اصلاً کوم مالي تعهد نه لري. دا د اسلامي پراختيايي بانک په هېڅ سند کې نه شته چې ګنې نوموړی بانک به د دغه پوهنتون لپاره څومره مرسته ورکوي؟ نوموړي بانک يوازې د امکاني مطالعې لپاره دوه لکه ډالر ورکړي وو. اصلاً نوموړي بانک ته د دغه پوهنتون په جوړولو کې د برخه اخيستنې او همدا راز د دغه هدف لپاره د مرستو په متحرک کولو کې د برخه اخيستنې ويل شوي وو.

د پوهنتون لېږد، ولې تاواني دی؟

د پوهنتون لپاره د ځمکې په اړه اصلاً کوم اختلاف موجود نه وو. په ننګرهار کې ټاکل شوې ځمکه د څو وزارتونو له لوري ولسمشر ته وړانديز شوه. ولسمشر ومنله او اسناد يې اسلامي پراختيايي بانک ته ولېږل شول.

له نښو نښانو داسې ښکاري چې د دغه لوی پوهنتون د مخنيوي لپاره په ملي او منطقوي کچه مافيايي ډيپلوماسي فعاله شوې. ولسمشر ته ناسم معلومات لېږدول کېږي او د دغه پوهنتون د ځنډني کولو، اختلافي کولو او په وار وار ځای بدلولو هم افغان حکومت مسخره کوي او هم د دغه پوهنتون جوړولو چانس له افغانانو اخلي.

که د پوهنتون موقعيت له ننګرهاره بل هر ځای ته انتقالېږي، نو دا په څو ملحوظاتو تاواني دی:

لومړی دا چې بيا به څوکاله د دغه پوهنتون پر هغه چارو ولګېږي، کوم چې وار له مخه په ننګرهار کې د دغه پوهنتون پر چارو لګېدلي وو.

دويم دا چې ايا اسلامي پراختيايي بانک به د دويمې اضافي امکاني مطالعې لپاره بسپنه ورکړي؟ يعنې موږ دومره زورور بسپنه غوښتونکي يو چې يو ځل مو ترې د ننګرهار لپاره وشکوله او بيا ځل به يې په بل موقعيت کې ترې غواړو!! دا خو زموږ د خوارو کبرجنو ستونزه ده. هغوی به وايي چې دا زموږ ستونزه نه ده، موږ د دې لپاره نوره بودجه نه لرو!

دريمدا چې موږ په دغسې غربت کې پنځه لکه ډالر له خپلې بودجې په ننګرهار کې دې ځمکې ته ځانګړې کړې وو. هغه دېوال پيل شو او تر ډېره حده ورسېد. اوس به يې بيا ځلې په بل موقعيت کې دېوال جوړه وو؟ يعنې موږ دا څومره په ناسمو پرېکړو کې د خپلو پيسو هميانۍ سورې کړې او پيسې ترې دغسې بيابانه کې تلېږي.

څلورم دا چې کله د پوهنتون د موقعيت مسئله د نخبه ګانو، مدني فعالانو او حتی ولسونو په کچه اختلافي شي او دغه اختلاف رسنيز پوښښ واخلي، نو د دې ډېر امکان شته چې اسلامي پراختيايي بانک دغه پروژه په دغسې اختلافونو کې د تطبيق وړ ونه بولي او دا مسووليت حکومت ته راجع دی چې ولې يې دغسې فيصله شوې موضوع يو ځل بيا په نوې پرېکړه کې جنجالي کړه.

پنځم دا چې ايا په کابل کې د دغه پوهنتون لپاره په دومره کچه لويه ټوټه ځمکه شته؟ زر جريبه ځمکه دوی د کابل په مسلطه مافيا کې له چا شکوي؟

ننګرهار ولې مناسب دی؟

په ننګرهار کې د پوهنتون لپاره دغه ځانګړې شوې ځمکه د موقعيت له پلوه ډېره مناسبه ده. ننګرهار په تاريخي لحاظ افراطي او متشدد نه دی پاتې شوی. دغه ولايت په تاريخي لحاظ فرهنګي او علمي مرکز پاتې شوی، ننګرهار عملاً د تسامح، زغم او يو بل د منلو هنداره او مرکز و او دی. حتی کله چې په ټول هېواد کې داخلي شخړې او جګړې وې، ننګرهار د امن ولايت و او د هېواد له ګوټ ګوټه دلته افغانان راکډه شوي وو. دوی دلته ډېر طبيعي ژوند درلود او تر اوسه يې د اوسېدنې کمپونه شته.

روانې ناامنۍ د تېرو څلوېښتو کلونو جنګي حالتونو زېږنده دي. په امنيتي لحاظ د هېواد هېڅ برخه ډاډمنه نه ده. حتی د ارګ شاوخوا سيمې خوندي نه دي، نو څکه ننګرهار ته د بې امنۍ دليل او پېغور په روان ملي جنګي حالت کې سخت پيکه او بې منطقه دی.

د پوهنتون دغه ځای په موقعيتي لحاظ د ننګرهار فارمونو ته نږدې دی. دغه فارمونه په تاريخي لحاظ د افغانستان له سترو زراعتي پروژو څخه دي. دلته د غازي امان الله خان عصري ښارګوټی دی. دا ښارګوټی د اروپا په عصري معيارونو اباديږي. په دې ساحه کې د کرېکټ نړيوال لوبغالی جوړ شوی. دلته صنعتي ښارګوټی دی چې د افغانستان په ابادۍ او پرمختګ کې به د تجارتي، اقتصادي او مالي بنسټ په توګه ونډه ولري او دلته د کابل - کونړ ګډ سيند په څپو دی چې دا هر څه د پوهنتون دغه موقعيت له هرې زاويې مناسب او راښکونکی کوي.

د پوهنتون لپاره د ننګرهار غوره کول د متوازنې ودې اصل له مخې هم يوه عادلانه کړنه ده. يو هېواد هغه مهال پرمختګ کولای شي چې وده يې متوازنه وي، خو په داسې يو هېواد کې چې فيصله شوې پروژې له يوه ولايته شکول کېږي، دا بيا محروميتونه منعکسوي او په دغسې حالت کې به د ننګرهار ولسونه داسې انګېري چې ولسمشره! رايه هم له موږه اخلې او پروژې هم له موږه اخلې. واه څه عجيبه تماشه ده!

# د ګوانتانامو له زندانه خوشي شوي طالبان د سولې په خبرو کې د ګډون لپاره قطر ته رسېدلي دي



د ګوانتانامو له زندانه خوشي شوي پنځه طالب چارواکي د سولې د خبرو لپاره قطر ته رسېدلي دي.

اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس د طالبانو د وياند ذبيح الله مجاهد له قوله ويلي چې د امريکايي پوځي بوبرېګډال په بدل کې له ګوانتانامو زندانه خوشي شوي پنځه طالب بنديان د سولې د خبرو اترو لپاره قطر ته رسېدلي دي.

سرچينې وايي چې محمد فضل اخوند، ملا نورالله نوري، ملا خيرالله خيرخواه، ملا عبدالحق وثيق او مولوي محمد نبي عمري هغه طالبان دي چې تازه د دې ډلې د قطر له دفتر سره يو ځای شوي دي.

د طالبانو دغه پنځه مهم غړي په ۲۰۱۵ مېلادي کال کې له طالبانو سره د اسير شوي امريکايي سرتېري بوبرېګډال په بدل کې خوشي شوي وو.

طالبان په داسې حال کې د سولې د خبرو د پر مخ بېولو لپاره د قطر دفتر ته د پنځو تنو نورو د لېږلو خبره کوي چې د افغان سولې په پروسه کې د امريکا ځانګړې استازي زلمي خليلزاد څو ورځې مخکې په قطر کې د يادې ډلې له يو شمېر غړو سره وکتل.

خليلزاد د طالبانو پر استازو سربېره، د افغانستان، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، قطر او پاکستان له چارواکو سره هم کتلي دي.

له پاکستاني چارواکو سره د خليلزاد د ليدنو کتنو په ترڅ کې د طالبانو د رهبرۍ شورا غړی عبدالغني برادر چې کلونه يې د پاکستان په زندان کې تېر کړي وو، څو ورځې مخکې خوشي شو.

د سولې عالي شورا د دې ټولو هڅو ملاتړ کوي، خو وياند يې له ازادي راډيو سره په مرکه کې د قطر دفتر ته د نويو طالب چارواکو د رسېدو په غبرګون کې په احتياط سره خوله خلاصه کړې ده.

د سولې د عالي شورا وياند سيداحسان طاهري وايي: «بې له شکه چې د سولې پروسه د افغانانو په مشرۍ او مالکيت ترسره کېږي او د نړۍ او سيمې هېوادونه په دې برخه کې تخنيکي همکاري کوي، هر اقدام چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو د زمينې برابرولو په برخه کې اخيستل کېږي، موږ ورنه ملاتړ کوو او د افغانستان په خير يې ګڼو.»

په ورته وخت کې د ولسي جرګې د نړيوالو اړيکو د کمېسيون غړی داوود کلکاني وايي چې له خبرو مخکې د طالبانو يو شمېر شرطونه منل شوي او تازه د قطر دفتر ته د طالبانو د پنځو تنو نورو غړو رسېدو، د سولې د خبرو پيلېدو ته هيلې ډېرې کړې دي.

کلکاني وايي: «طالبانو چې کوم شرطونه د سولې د خبرو لپاره وړاندې کول، ليدل کېږي چې د امکان تر بريده منل شوي، هغوی له امريکا سره خبرې کوي، هغه فشارونه چې پر پاکستان راغلي، د دې لامل ګرځېدلي چې طالبان خبرو ته چمتو شي او هيلې شته چې يوې حللارې ته غاړه کېږدي.»

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې تر راتلونکو څو ورځو پورې په مسکو کې هم د افغانستان د سولې په تړاو غونډه جوړه شي.

د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د سولې لپاره تر بل هر وخت هڅې چټکې شوې او له روسي چارواکو سره د مسکو د غونډې په تړاو خبرې روانې دي.

روسي چارواکو مخکې تر دې ويلي وو چې د مسکو ناستې ته افغانستان، امريکا، طالبان او د سيمې يو شمېر مهم هېوادونه هم وربلل شوي دي.

# د بنګله دېش پخوانۍ لومړۍ وزيره په اووه کلن بند محکومه شوې

د بنګله دېش پخوانۍ لومړۍ وزيره خالده ضيا چې د دغه هېواد د حکومت د مخالف ګوند مشره هم ده، په اووه کلن بند محکومه شوې ده.

د خالدې ضيا ګوند په بېړنۍ توګه د محکمې حکم رد کړی او اعلان يې کړی چې په ټول هېواد کې به اعتراضيه لاريونونه وکړي.

خالده ضيا ۷۳ کلنه ده، دا په ډهاکه کې محکمې ته نه وه حاضره شوې او د نوموړې مدافع وکيل هم دې غونډې ته حاضر نه شو او ويلي يې دي چې له محکمې د عدالت تمه نه لري.

د بنګله دېش سترې محکمې د مېرمن ضيا د استيناف هغه غوښتنه رد کړې چې اووه کاله وروسته له هغه وشوه چې په دغه هېواد کې د فساد پر وړاندې کمېسيون ته يې شکايت ثبت کړی و.

مېرمن ضيا د اداري فساد په يوه بله قضيه کې پنځه کلن بند تېروي او د روانې مياشتې په لومړيو کې د ناوړه روغتيايي وضيعت له کبله روغتون ته انتقال شوه.

د نوموړې ګوند ويلي چې د دغو قضيو تر شا يو لړ سياسي انګېزې شتون لري او دا د ډسمبر تر ټاکنو مخکې د حکومت هڅه ده چې مخالفين کمزوري کړي.

د نوموړې قاضي اخترالزمان ويلي چې مېرمن ضيا له ۲۰۰۱ ز نه تر ۲۰۰٦ ز کال پورې د خپل حکومت پر مهال له واکه په ناوړه ګټه اخيستنې د خپل مېړه ضياالرحمان په نوم خيريه مؤسسې ته له نامعلومو سرچينو درې لکه او ۷۵ زره ډالره تر لاسه کړي وو.

ضياالرحمان د بنګله دېش د پوځ پخوانی مشر او د دغه هېواد ولسمشر هم پاتې شوی چې په ۱۹۸۱ ز کال کې ووژل شو.

محکمې له دې قضيې سره په تړاو درې نور کسان هم په اووه کلن بند محکوم کړل.

مېرمن ضيا له ۳۰ نورو قضيو سره مخامخ ده چې د بنګله دېش په محکمو کې پرتې دي.

د نوموړې نشنلېست ګوند وايي، دا قضيې د ضيا پر وړاندې د اوسنۍ صدراعظمې شيخ حسينې له واکه ناوړه ګټه اخيستنه ده، ځکه دوی له ډېرې مودې راهيسې سياسي سيالانې دي او د دوی په وينا، شيخ حسينه غواړي چې په راتلونکو ټاکنو کې د درېيم ځل لپاره برياله شي.

مېرمن ضيا او د دې سياسي پلويانو د ۲۰۱۴ ز کال په ټاکنو کې ګډون ونه کړ او پر لاريونونو او اعتراضونو سربېره، شيخ حسينې ته لاره پرانيستل شوه چې يو ځل بيا واک ترلاسه کړي.

د مېرمن ضيا مهم پلوی ګوند جماعت اسلامي دی چې د شيخ حسينې سخت مخالف دی.

د دغه ګوند مشران په دې وروستيو کې له پاکستان سره د ۱۹۷۱ ز کال د ازادۍ د جګړې پر مهال د جنګي جرايمو په تور په اعدام محکوم شول.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### یوولسمه ځانګړنه
**غوږ نیول:**




**د خلکو د زړونو خپلولو لپاره له غوږونو کار واخلئ**

د رهبر غوږ باید
د خلکو په غږ وشرنګېږي
(وودرو ویلسن)
«د امریکا ولسمشر»

ښه رهبر خلک هڅوي، ده ته هغه څه وایي چې دی ورته اړتیا لري، نه هغه څه چې دی یې اورېدل غواړي.
(جان مکسوېل)

**ډېرې خبرې کوي، خو تر هغه ډېرو ته غوږ نیسي**

په هر هېواد کې ځینې خلک د هېواد بانفوذه شخصیتونه ګڼل کېږي. په امریکا کې به ولسمشر په همدې بانفوذه خلکو کې راځي، خو د ده تر څنګ (الن ګرین سپان) او (مایکل جردن) هم بانفوذه بللی شو. مایکل جردن د نړۍ بانفوذه شخصیت دی، خو که فکر وکړو چې د دغو خلکو لیست ته څو کسان نور هم ورزیات کړو، نو څوک به وي؟ بیل ګېټس هم ورزیاتولی شو. اوس زه غواړم داسې یو نوم ورزیات کړم چې ستاسې به ورته فکر هم نه وي: اوپرا وینفري یادوم.

وینفري تر ۱۹۸۵ز کال پورې هېڅ مشهوره نه وه. د اسپیل برګ په فلم (ارغواني رنګ) کې صحنې ته را ووته او ورسره یې په شیکاګو کې یوه سهارنۍ خپرونه تر یوه کاله چلوله. د وینفري بریا او پرمختګ د دې د خبرو په برکت ګڼلی شو، خپله وایي چې: (له خلکو سره په خبرو کې مې ځان ته هر ډول ارزښت ګټلی دی.) ماشومتوب کې هم هڅول شوې وه، وایي: (زما یادېږي چې په دوه کلنۍ کې مې په یو ځای کې وینا کوله، خلک لګیا وو چې دا ماشومه ډېره تکړه ده، خبرې کولای شي.)

خو وینفري ښه اورېدونکې وه، د هغې د ژوند یوه لویه ځانګړنه همدا اورېدل او غوږ نیول وو. وینفري له مطالعې سره ډېره مینه لرله، بېلابېل ناولونه او ژوندلیکونه به یې لوستل او د نورو په فکر او احساس به یې ځان خبراوه او د ځان په اړه به هم لا ډېره پوهېدله.

اورېدو ته دغې لېوالتیا د وینفري له ژوند او شخصیت جوړولو او په کار کې یې ورسره مرسته وکړه. دغه مهارت یې په ټلویزیوني خپرونو کې ډېر زیات لیدل کېږي. دې په ټلویزیوني خپرونو کې خبرې کولې او دا خبرې به یې له خپلو اورېدنو او لیدونو پیدا کولې. مشهور خلک، ستر لیکوال او متخصصین چې به یې خپرونې ته رابلل، د هغوی خبرې به یې اورېدې. ستره هنرمنده میدونا په دې باور ده چې وینفري له خلکو سره د خبرو اترو او اړیکو جوړولو ښه وړتیا لري. بیا وایي: (زه نه پوهېږم دا څنګه کوي، له مودو راهیسې د ټلویزیون په سکرین راځي، خو خلک ترې نه ستړي کېږي او دې ټولې بریا ته د اورېدو په برکت رسېدلې ده.)

د خبرې اورېدو وړتیا وینفري مشهوره کړې ده، نن سبا د ټلویزیون په مشهورو او لوړ معاش اخیستونکو کارکوونکو کې راځي. پانګه یې نیم میلیارد ډالرو ته رسېږي او هره اونۍ یې په امریکا کې ۳۳ میلیونه خلک خپرونه ګوري.

له دې ټولې بریا او مشهورتیا سره بیا هم، څه موده وړاندې وینفري پرېکړه وکړه چې خپرونه پرېږدي، خو وروسته بیا په اصلاحاتو پکې راضي شوه. خو دې پایلې ته څنګه ورسېده، چې دا کار وکړي؟ ځواب یې دا دی چې له خپلو کارکوونکو یې پوښتنه وکړه.

وینفري کارکوونکو ته وویل: (داسې ښایي نور کار ونه کړي، مونږ په خپرونه کې څه بدل کړو، په خپرونه کې بدلون داسې دی لکه په ژوند کې بدلون، خوندور به وي، راځئ چې ویې کړو، څه کولای شو چې خپرونه لا ډېره خوندوره شي؟)

وینفري د خپلو همکارانو په نوښت او مفکورو شک درلود، خو بیا یې هم حکمت درلود، غوږ یې ورته کېښود او یو فرصت یې ورکاوه. د همکار مفکوره یې د کتابغالي (بُک کلپ) جوړول وو، اوس دا مفکوره ښه بریالۍ ده، سلګونه او زرګونه خلک د کتابونو په لوستو وده او پرمختګ کوي، ځینې یې په لومړي ځل لولي. وینفري خوشاله ده، د هغې هدف دا دی چې خلک ارزښتمن کړي او په دې کار کې ځکه بریالۍ ده چې اوري او غوږ نیسي.

**دې ته تم شئ**

رهبر که غواړي له بل چا مرسته واخلي، لومړی باید د مقابل لوري زړه وګټي او دا کار هله کېږي چې د مقابل لوري خبره واورېدل شي.

کمزوري رهبران اورېدو ته لېوال نه وي. پیتر دروکر د امریکا د مدیریت پلار وایي چې په ادارو کې ٦۰ سلنه ستونزې یوازې له دې امله سر راپورته کوي چې ارتباطات سم نه نیول کېږي او زه بیا وایم چې د ارتباطاتو د ستونزو لویه برخه د غوږ نه نیولو یا نه اورېدلو له امله وي.

**دې ته پام کوئ چې غوږ نیول تاسې ته دوه ګټې در رسوي:**

- له نورو خلکو سره اړیکې او مفاهمه
- زده کړه

نو په دې خاطر د دغو خلکو خبرې ښه په خلاصو غوږونو اورئ: **دوام لري...**


# ګټه وټه

◀ اکسوس کتابپلورنځی

(ګټه وټه) پښتو ته نوی ژباړل شوی کتاب دی چې محتوا یې تر ډېر د پیسو په ګټلو او سپما را څرخي. د نننی انسان تر ټولو ستره لاسته راوړنه پیسې دي چې د خوشبختۍ، انګېزې او ټولې نړۍ د پرمختګ سبب شوې دي. پیسې په خپل ځای کې د ځانګړې ارزښت لرونکې دي. پیسې انسانانو ته قوت او ازادي ورکوي، پیسې انسانانو جوړې کړې چې دوی ته اسانتیاوې رامنځته کړي او تر ټولو مهم شی چې امنیت دی، ور په برخه کړي او د دې ټولو په شتون کې انسانان له خپل ژوند څخه خوند واخلي.

مشهور لیکوال زیګ زیګلار وایي، پیسې هر څه نه دي، خو د پیسو اهمیت د اکسیجن په کچه دی. څومره چې پیسې مثبتې ځانګړنې لري، دغه راز کېدای شي منفې او تخریبي پایلې هم ولري، خو تجربو دا ثابته کړې چې تر منفي هغو یې مثبت اړخونه ډېر دي. وګورئ چې پیسې له چا سره دي او د کومو موخو لپاره کارول کېږي؟ د یوه ډاکتر په لاس کې چاړه یو چاته ژوند وربښي، خو د یوه نادان کس په لاس کې د چاړې شتون د یو چا ژوند اخیستلی شي. دې ته په کتو باید چاړه د داسې کس په لاس کې وي چې خلکو ته ژوند ور وبښي. د هغو کسانو شمېر چې د چاړې په وسیله خلکو ته ژوند ورکوي، په ځلونو د هغه کسانو تر شمېر ډېر دی چې د خلکو ژوند پرې اخلي. که پیسې د هوښیارو خلکو په لاس کې وي، کېدای شي یوه نوې دنیا پرې جوړه کړي.

ډېری پوهان له دې جملې سره چې «پیسې نېکمرغي نه راولي» مخالف دي. دوی پر دې باور دي چې پیسې د نېکمرغۍ راوړونکې دي، پیسې کولای شي یو ناروغ د ناروغۍ له بستره خلاص کړي، پیسې کولای شي زده کوونکو او محصلینو ته د زده کړو زمینه برابره کړي، پیسې پوهنتون جوړولی شي، پیسې روغتون جوړولی شي، د پیسو په وسیله کولای شو فابریکې جوړې کړو او زرګونو کسانو ته پکې د کار زمینه برابره کړو. تر ټولو ښه دا چې پیسې له بې وزلو کسانو سره د مرستې سبب هم کېدای شي. پیسې د کورني نظام جوړوونکې دي، پیسې کولای شي د یوې کورنۍ غړي په یوه ټغر سره راټول کړي، بالاخره ویلی شو چې پیسې با ارزښته دي. ګټه وټه کتاب مهدي فیروزي لیکلی چې تازه حمیدالله حمیدي پښتو ژبې ته را ژباړلی دی. په دغه کتاب کې د پیسو پر ارزښت، د پیسو پر ګټلو، د شتمن کېدو پر لارو چارو، سپما او په ټوله کې پر ګټې وټې خبرې شوې دي. کتاب په کابل کې د اکسوس کتابپلورنځي له خوا په وایګل چاپخونه کې په لوړ کیفیت او ښکلي صحافت چاپ شوی دی. مینوال کولای شي، دا او نور هر ډول د خوښې وړ کتابونه له اکسوس کتابپلورنځي څخه په مناسبه بیه تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د مالي محاسبې اساسات | رباني زلمی | ۲۰۰ؤ |
| ۲ | تهیه او تدارکات قانون | سراج الدین حلیمزی | ۱۵۰ؤ |
| ۳ | د بریا رازونه | نصیر احمد مصلح | ۷۰ؤ |
| ٤ | د ښه ژوند تګلارې | حضرت عثمان | ۷۰ؤ |
| ٥ | د افغانستان معاصر تاریخ او تړونونه | وصلي خان ملاخېل | ۱۰۰ؤ |
| ٦ | ایمان (ناول) | نور عمر | ٥۰ؤ |
| ۷ | بعد از تابش خورشید | محمد عارف فطرت | ٥۰ؤ |
| ۸ | مضمون عشق در مکتب زندگی | محمد عارف فطرت | ٥۰ؤ |
| ۹ | روش های تحقیق در روانشناسی و علوم تربیتی | پوهنوال خلیل الرحمن سروری | ۳۰۰ؤ |
| ۱۰ | نګران نباشید پول در آورید ۱۰۰ کلید ثروتمند شدن | ریچارد کارلسون | ۲۰۰ؤ |
| ۱۱ | شانس دوم | رابرت تی . کیوساکی | ۲۷۰ؤ |
| ۱۲ | ګنج های درون | دکتر جان اف دمارتینی | ۱۲۰ؤ |
| ۱۳ | پرورش رویاها | کونوسوکه ماتسوشیتا | ۱۲۰ؤ |
| ۱٤ | نابغه دیوانه | رندی ګیج | ۱۳۰ؤ |
| ۱٥ | رهسپاری | وین دایر | ۱٤۰ؤ |
| ۱٦ | ګام های روان درمانی برای انواع مشکلات زنان | جولی آر. و آرتورای .جانګسما | ۱۲۰ؤ |
| ۱۷ | برنده ها چګونه می اندیشند؟ | جف جی و وال جی | ۱٤۰ؤ |
| ۱۸ | ملاقات من با خودم | علی اصغر سواد کوهی | ۱۷۰ؤ |
| ۱۹ | نوازش در روابط زنا شویی | دکتر علی شمیسا | ۲۰۰ؤ |
| ۲۰ | هنرعشق ورزیدن | اریک فروم | ۱۲۰ؤ |
| ۲۱ | من سه نفر هستم | دکتر حسن شاهدی | ۱٥۰ؤ |
| ۲۲ | کاهش وزن بی خطر | لوسی بیل | ۲٥۰ؤ |
| ۲۳ | ۴۸قانون قدرت | رابرت ګرین | ۳۷۰ؤ |
| ۲٤ | جرایم انتخاباتی در نظام حقوق جزای افغانستان | عبدالستار سعادت | ۱٥۰ؤ |
| ۲٥ | نیایش | مهاتماګاندی | ۲۳۰ؤ |
| ۲٦ | د ودې او انکشاف ارواپوهنه | اسدالله کلیوال محمد طاهر خپلواک | ۱۰۰ؤ |
| ۲۷ | هیله‌بښونکې‌خبرې | هېواد بریال کومکي | ۸۰ؤ |
| ۲۸ | مبانی و اصول مدیریت | پوهنوال عبدالطیف رحماني | ۲۰۰ؤ |
| ۲۹ | هنر و دانش مذاکره | مارک شوئفیلد و شوئفیلد | ۳۰۰ؤ |
| ۳۰ | زولوژي غیر فقاریه | پوهنواله بابکر خېل | ۳۳۰ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ۵۷٤ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:30 |
| کابل - انقره | 23:00 |
| کابل - ارومچي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** عبدالرقیب نوري

**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د نړۍ سیاسي رهبران کوم ډول ټلیفونونه کاروي؟

**لیکنه: بشر درویش**

د امریکا نیویارک ټایمز ورځپاڼې په یوه تازه راپور کې ویلي چې د چین جاسوسي شبکې د امریکا د ولسمشر ډونالډټرمپ ټلیفوني مکالمې څاري.

د چین د بهرنیو چارو وزارت له دې ادعا وروسته په طنزیه انداز ویلي، که ټرمپ غواړي چې د ټلیفون جاسوسي یې ونه شي، د هواوي له ګرځنده ټلیفون څخه دې ګټه واخلي.

د ټرمپ په اړه دغه راپور دا پوښتنه رامنځته کړې چې د نړۍ مهم سیاسي مشران کوم ډول ټلیفونونه استعمالوي؟

په دې مطلب کې به په همدې اړه معلومات درکړو:

**۱- باراک اوباما**

د امریکا مخکیني ولسمشر بارک اوباما د بلک بري له سمارټ فون څخه ګټه اخیسته.

د لاسته راغلو معلوماتو له مخې، د اوباما ټلیفون درې زره امریکایي ډالره بیه لرله. کېدای شي پوښتنه درته پیدا شي چې دغه ټلیفون څه ځانګړنې لرلې او ولې دومره ګران بیه و؟

د اوباما سمارټ فون د نړۍ له تر ټولو خوندي ټلیفونونو څخه و. دغه ټلیفون نه واټس اپ درلود او نه کمره. په یاد شوي ټلیفون کې د پیغام استولو وړتیا هم نه وه. دا ټلیفون د تر ټولو لوړ امنیت لرلو لپاره په نړیوال معیارسمبال شوی و.

**۲- هیلري کلینټن**

د امریکا د بهرنیو چارو مخکینۍ وزیره او په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې د ټرمپ سیاله هیلري کلینټن هم د اوباما په شان بلک بري ټلیفون کاراوه.

هیلري کلینټن په ټولنیزو شبکو کې د عکس خپرولو عاشقه وه، په همدې دلیل یې ځیني ټولنیزې شبکې هم په خپل فون کې فعاله کړې وې.

**۳- ولادیمیر پوتین**

د پوتین په اړه ادعا شوې چې له ګرځنده ټلیفون څخه ګټه نه اخلي، خو د تلګراف ورځپاڼې په یوه راپور کې ویل شوي چې هغه د ګلوناس په نوم له ګرځنده ټلیفون څخه استفاده کوي.

**۴- د برېټانیا سلطنتي کورنۍ**

دا کورنۍ ټوله پر ایفون ټلیفون مینه ده. په وروستي ځل له پرنس ویلیام سره یو ایفون ټلیفون په لاس کې لیدل شوی. هغه د ۲۰۱۳ ز کال په المپیک سیالیو کې دا ټلیفون له ځان سره درلود.

**۵- کېم جونګ اون**

د شمالي کوریا د رهبر ټلیفون ډېر مشکوک دی. د هغه د فون په اړه هېڅ معلومات نشته چې کوم ماډل دی.

د هغه له یوه خپاره شوي عکس څخه څرګندېږي چې (اېچ ټي سي باټرفلای) ماډل سمارټ فون کاروي.

په شمالي کوریا کې خلک د «اریرنګ» په نوم د ټلیفونونو داخلي تولیدات لري.

له دغو داخلي تولیداتو څخه محدود خلک چې د ټولې شمالي کوریا لس سلنه او مهم خلک دي، ګټه اخلي.

یو ګومان دا هم دی چې د شمالي کوریا رهبر هم له دغه ټلیفون څخه استفاده کړې ده.

**٦- انګلامېرکل**

د المان د لومړۍ وزیرې او مقتدرې سیاستوالې انګلامېرکل په اړه ویل شوي چې له نوکیا ٦۲٦۰ ماډل او بلک بري ټلیفونونو څخه ګټه اخلي.

ویل شوي چې د هغې د دفتري کارونو ټلیفون نوکیا دی.

**۷- ډونالډټرمپ**

ویل کېږي چې ټرمپ خپل ټوېټونه د عمومي اړیکو له لارې ترسره کوي.

ټرمپ له ولسمشرۍ څخه مخکې له سامسونګ ګلکسي ټلیفون څخه ګټه اخیسته.

ټرمپ سپینې ماڼۍ ته له ننوتو وروسته له ایفون ټلیفون څخه ګټه اخیستل پیل کړل.

دا خبره د ده د ټولنیزو رسنیو مدیر ډان اسکاوینو هم په یوه ټوېټ کې تایید کړې ده.

**۸- امانویل مکرون**

د فرانسې تر ټولو ځوان ولسمشر د دفتر خپاره شوي تصویرونه څرګندوي چې د هغه پر مېز دوه ایفونونه اېښودل شوي.

## حکمتیار: اجازه نه ورکوو چې ولسمشریزې ټاکنې وځنډول شي

د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار وایي چې ولسمشریزو ټاکنو ته پوره تیاری لري او اجازه نه ورکوي چې ټاکنې وځنډول شي.

د حزب اسلامي په هغې خبرپاڼه کې چې پرون خپره شوې، راغلي چې حکمتیار دغه موضوع د کندوز ولایت له جهادي شخصیتونو، قومي مخورو او ځوانانو سره د لیدنې پر مهال یاده کړې ده.

سرچینې زیاته کړې، د جزب اسلامي مشر په دې لیدنه کې ووېل: «د ولسي جرګې ټاکنې زموږ لپاره لومړنۍ تجربه وه. لومړی ځل دی چې موږ په ټاکنیز بهیر کې برخه اخلو، په داسې حال کې چې ټول دولتي ځواکونه د حزب اسلامي د سیال او حریف په چوپړ کې و خو موږ په همدې شرایطو کې د ټاکنو بهیر ته د ننه شوو».

نوموړي ووېل، که ټاکنې رڼې وای، درغلي نه ترسره کېدلای او د خلکو رایو ته احترام کېدای باور لري چې مطلق اکثریت رایې به حزب اسلامي ترلاسه کولې. حکمتیار زیاته کړې چې ټاکنې له ټولو نیمګړتیاوو سربېره د مبارزې یو فرصت و او حزب اسلامي په دې مبارزه کې فعال او ډېر حضور درلود.

د حزب اسلامي مشر څرګنده کړې چې د حزب اسلامي اړوند سیمې په قصدي توګه په ټاکنو کې ناامنه شوې او د یادو سیمو ناامنه کول ډېر اسانه او ساده کار دی. دوی غوښتل چې د هاوان د څو مرمیو په فیر کولو دغه سیمې نا امنې کړي او دا کار هم د دولت له داخل او هم د وسله والو طالبانو له ادرسه ترسره شوی دی.

د حکمتیار په خبره، د ولسي جرګې ټاکنې یوه مسخره او شرموونکې لوبه وه. یوازې په کندوز کې نه، بلکې په ټولو سیمو کې درغلي شوې ده، حکومت او د ټاکنو کمېسیون په قصدي ډول دې درغلیو ته زمینه برابره کړه چې زیاتره کسان په ټاکنو کې له برخه اخیستو بې برخې شي.

دغه راز د حزب اسلامي مشر یادونه کړې چې: «موږ شاوخوا ۳۷ سیاسي ګوندونه له ځان سره لرو او دا ټول ګوندونه له درغلیو ډکې ټاکنې نه مني. موږ هیله من یو چې په راتلونکې کې د ټاکنو په خپلواک کمېسیون او د ټاکنو په سیستم کې اصلاحات رامنځته شي تر څو د دا ډول تېروتنو مخه ونیول ش». ګلبدین حکمتیار وایي چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره پوره تیاری لري او اجازه نه ورکوي چې د ولسمشرۍ ټاکنې وځنډول شي. ټاکل شوې ده چې د ولسمشرۍ ټاکنې به د ۱۳۹۸ لمریز کال په پسرلي کې ترسره شي.

د ده په خبره، تر اوسه د ځانګړي نوماند په اړه هوکړه نه ده شوې خو دوی غواړي چې ټول سیاسي ګوندونه یو نوماند ولري چې وکولای شي د ټاکنو په لومړۍ دوره کې بریالی شي. حکمتیار زیاته کړې چې سیاسي ګوندونه غواړي چې د ولسوالیو شوراګانو ټاکنې هم له ولسمشریزو ټاکنو سره یو ځای ترسره شي.

**د کورنیو چارو وزارت متقاعد افسران:**

## که د رواني میاشتې تر ۱۵مې د تقاعد حقوق را نه کړل شي، پر قانوني اقداماتو لاس پورې کوو

د کورنیو چارو وزارت یو شمېر متقاعدین چې له غبرګولي راهیسې یې تنخواګانې نه دي ورکړل شوې، وایي که د لړم تر ۱۵مې یې حقوق ورنه کړل شي، پر ځینو قانوني اقداماتو به لاس پورې کړي.

د کورنیو چارو وزارت تقاعد شویو شاوخوا ۸۰ افسرانو پرون د کابل ښار د چمن حضوري په سیمه کې په اعتراضیه غونډه کې برخه واخیسته. متقاعد سمونوال عبدالحسیب ارین چې د نورو په استازیتوب یې په دې غونډه کې خبرې کولې، وویل چې د ۲۰۰ جنرالانو په ګډون د کورنیو چارو وزارت شاوخوا زر افسران د روان کال په پیل کې تقاعد شوي دي.

دی وایي چې دغو کسانو د روان کال له غبرګولي میاشتې راهیسې د تقاعد تنخواګانې نه دي ترلاسه کړې.

هغه وویل چې دوی څو ځلې د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت اړوند د تقاعد ریاست او مالیې وزارت ته ورغلي او د خپلو تنخواګانو غوښتنه یې کړې، خو تر اوسه یې تنخواګانې نه دي ترلاسه کړې.

ارین وایي، د امنیتي ستونزو له امله ټول شاوخوا زر تقاعد شوي افسران پرونۍ اعتراضي غونډې ته نه دي رابلل شوي، خو که اړتیا شي، ټول به په اعتراضي او مدني حرکتونو کې برخه واخلي.

له یادو کسانو بل تن، متقاعد سمونوال جنت میر ځاځي وویل چې دوې ګیلې لري؛ یوه دا چې د کورنیو چارو وزارت له وخت مخکې تقاعد کړي او بل دا چې اوس یې د مالیې وزارت حقوق نه ورکوي.

ده وویل چې مالیې وزارت او د تقاعد ریاست دوی ته پلمې کوي، خوشې وخت تېروي او د دغو متقاعدینو د تنخواګانو په ورکولو کې غفلت کوي.

د دغو متقاعدینو په پرېکړه لیک کې د تقاعد حقوقو پر وخت ورکولو او په ادارو کې د بیروکراسۍ ختمولو غوښتنه شوې ده.

په پرېکړه لیک کې راغلي چې که د روانې (لړم) میاشتې تر ۱۵مې یې د تقاعد حقوق ورنه کړل شي، په هر قانوني کار یې چې لاس پورې کړ، مسوولیت به یې د اړوندو چارواکو پر غاړه وي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند نجیب دانش پژواک ته ویلي چې د یادو متقاعدینو د تقاعد حقوق اجرا کېږي.

د هغه په وینا، یوه ډله ګومارل شوې تر څو د تقاعد سیستم کې شته ستونزې وڅېړي او وروسته د روان کال تر پایه د یادو ټولو تقاعد شویو افسرانو تنخواګانې ورکړل شي. ده ویلي، سږ کال د تقاعد د حقوقو د اجرا پروسه ځکه اوږده شوه چې د دغه وزارت د تقاعد شوو کسانو شمېر ډېر و. هغه دغه شمېر په ګوته نه کړ.

## د استانبول په ناسته...

سوریه کې له ترهګرو سره مبارزه زموږ لومړیتوب ګڼل کېږي. دا مبارزه به د بشري حقوقو ټولو اړخونو ته په پام سره پر مخ بوتلل شي.» زموږ لومړیتوب له ترهګرۍ سره مبارزه ده. دا مبارزه نن هم پرمخ بېول کېږي.

په ټوله کې موږ سیاسي او پوځي لومړیتوب د چارو په سر کې ټاکلی دی، موږ اړ یو چې هېڅکله هغه له پامه ونه غورځوو.

هغه وویل: «دا لومړنۍ ګډه جګړه ده چې په سوریه کې د ترهګرۍ په وړاندې پر مخ بېول کېږي چې زموږ په هېوادونو کې په خونړیو بریدونو او وژنو باندې لاس پورې کوي.»

موږ هوډ کړی چې له ترهګرۍ سره به جګړه پر مخ بیایو. په دې مبارزه کې به زموږ ټولې کړنې له حقوقي او بشرپالنې اړخونو سره په همغږۍ کې تر سره کېږي.

تر دې وړاندې د اکتوبر میاشتې په ۲۰مه د فدراتیفي روسیې د دفاع وزیر ښاغلي سرګي شایګو په سینګاپور کې د ACEAH)) د دفاع وزیرانو او همکارانو په پنځمه ناسته کې د وینا پر مهال ګډونوالو ته په سوریه کې له داعش سره د مبارزې په هکله هر اړخیز معلومات ورکړل.

د سرګي شویګو په وینا:

«د روسیې (پوځي- هوایي) ځواکونو د دریو کلونو په اوږدو کې څلوېښت زره ځله الوتنې کړې دي.

۵۸۷ تنه ترهګر په دې بریدونو کې وژل شوي دي. تر۱۲۰ زره ډېر ځمکني پټنځایونه او نورې پوځي چاونۍ وېجاړې شوې دي.»

تر دې دمه حکومتي ځواکونه د سوریې په سلو کې ۹۵ سلنه خاوره په خپله ولکه کې لري چې د سوریې اوسېدونکو ۹۰ په سلو کې شمېره جوړوي.

د روسیې ماین پاکوونکو ۱۵۰۰ کیلو مترو په واټن لارې له ماینونو څخه پاکې او په ۱۹ زرو بېلابېلو ودانیو کې یې ماینونه شنډ کړي دي.

ښاغلي شایګو پر نړیوالې ټولنې غږ وکړ چې د سوریې په بیارغونه کې رغنده برخه واخلي.

سرګي شویګو یادونه وکړه، د روسیې د پخلاینې مرکز په دې بریالی شوی دی چې مخالف دواړه لوري روغې جوړې او پخلاینې ته را وبولي او د اوسېدو ۲۵۰۰سیمې د سولې د زونونو په توګه ونومول شي.

له ۲۴۵ زرو څخه ډېر سوري کډوال بېرته خپلو ټاټوبو ته ستانه شوي او تر دوو میلیونو ډېرو کډوالو د ستنېدو هوډ کړی دی.

د یادونې ده چې د سوریې کړکېچ ته د هواري موندلو او خبرو اترو پیل لومړنۍ ډګر په ۲۰۱۷ ز کال د قزاقستان پلازمېنه استانه وه، چېرې چې د روسیې، ترکیې او د ایران درې اړخیزه د (استانې بهېر) تر سرلیک لاندې کارې ډلې په سوریه کې د اوربند ضمانت وکړ. د نړۍ د پېژندل شویو کارپوهانو په وینا؛ دې کار د امریکې له خوا د سوریې د تجزیې تګلاره شنډه او له ماتې سره مخامخ کړه.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د لړم نهمه | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۳۱مه | دویم کال | ۲۷۷یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ۱۵ | ۲۵ | ۱۲ | ۲۷ | ۲۳ |
| ۷ | ٤ | ۱۱ | ۸ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۸ | لمر ختل ۰٦:۱۲ | ماسپښین ۱۱:۳۷ | مازیګر ۰۳:۲۳ | ماښام ۰۵:۰۲ | ماخوستن ۰٦:۲٦

## نړۍ




## د استانبول په ناسته کې د سوریې پر خپلواکۍ ټینګار وشو



د اکتوبر په ۲۷مه د استانبول ناسته چې د ترکیې د ولسمشر رجب طیب اردوغان په نوښت، د فدراتیفي روسیې، فرانسې، ترکیې او د فدرال جرمني مشرانو په ګډون د سوریې د ستونزو د څېړلو په موخه رابلل شوې وه، پای ته ورسېده.

د دې ناستې په پای کې ګډه اعلامیه لاسلیک او خپره شوه.

په دې ګډه اعلامیه کې د سوریې کړکېچ ته د پای ټکي پر موندلو، د سولې بهیر پر لا چټکولو او د نورو هېوادونو د ملاتړ پر راماتولو ټینګار شوی دی. ګډونوالو پرېکړه وکړه او ویې منله چې د سوریې خپلواکي به خوندي ساتي او همدا راز به د سوریې ناپېیلتوب ته ژمن وي او بل لور ته د ورماتولو له هڅو څخه به په کلکه ډډه کوي.

په هغه هوکړه لیک کې چې د فدراتیفي روسیې، ترکیې، فرانسې او جرمني هېوادونو د مشرانو له لوري لاسلیک شوی، راغلي: په سوریه کې کړکېچ او جګړه د نړۍ ټیکاو او ثبات ګواښوي.

له همدې کبله له ترهګرۍ سره د مبارزې د ګډو هلو ځلو ترڅنګ د سوریې د خپلواکۍ خوندي ساتل د چارو په سر کې ټاکل شوي دي.

«په ټوله او اصولو کې په کلکه د سوریې د عربي جمهوریت د خپلواکۍ، یووالي، ځمکنۍ بشپړتیا ته د ملګرو ملتونو د اساسنامې پر بنسټ ژمن یو.»

په ګډه اعلامیه کې همدا راز د سوریې د عربي جمهوریت د جوړښت د وېجاړولو او نسکورولو په اړه کښل شوي دي: «په څرګنده د هر ډول پاڅون او نښتو تګلارو څخه چې د سوریې او همدا راز د دې هېواد د ګاونډیو هېوادونو خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا ونګوي او یا هم کوم زیان واړوي؛ په کلکه مخالفت کوو.»

د فرانسې ولسمشر امانوېل مکرون مطبوعاتي ګډ کنفرانس ته د وینا په یوه برخه کې چې د دې ناستې په پای کې را بلل شوی و، وویل: «په ټوله کې په ...

۵مخ

## د روسیې دفاع وزیر: له یوه تړونه د واشنګټن وتل به اروپا ته خطرناک عواقب ولري

د روسیې دفاع وزیر خبرداری ورکړی چې د اټمي وسلو د کنټرول له یوه زاړه تړون څخه د واشنګټن وتل به اروپا ته خطرناک عواقب ولري.

سرګي شویګو له خپل یوناني سیال سره د لیدنې پر مهال ویلي، اروپایي ټولنه او ناټو باید د ۱۹۸۷ ز کال د منځنۍ وټن ویشتونکو اټمي وسلو د کنټرول له تړونه د واشنګټن د وتلو عواقب و ارزوي.

دغه تړون د امریکا د پخواني ولسمشر رونالډ ریګن او د پخواني شوروي اتحاد د رهبر میخایل ګورباچوف ترمنځ لاسلیک شوی و.

نوموړي ویلي: «داسې ښکاري چې په اروپا کې هر کس دا درک کوي چې دغه پرېکړه به په اول ګام کې د اروپا لپاره جدي عواقب ولري.»



د امریکا ولسمشر ډونالډ ترمپ روانه میاشت له دغه تړونه د واشنګټن د وتلو اعلان کړی او تور یې لګولی چې روسیه له ۲۰۱٤ ز کال راهیسې له دغه تړونه سرغړونه کوي.

روسیه دا تور ردوي، خو وایي په اروپا کې د امریکا د توغندیو د دفاعي سیستم د ځای پر ځای کولو ځینې برخې له دغه تړونه سرغړونه ده.

## کمیسیون های انتخاباتی در مورد سرنوشت ارای بایومتریک‌نشده به توافق رسیدند



کمیسیون‌های انتخاباتی به توافق رسیدند که آرای بدون بارکود بایومتریک در صورتی از اعتبار برخوردار است که از سوی رئیس محل، ناظران، مشاهدان حاضر در محل رای‌دهی و بر اساس طرزالعمل، صحت آن تصدیق شده و هیچ اعتراض و شکایتی در مورد آن وارد نشده باشد.

حفیظ الله هاشمی، سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات و علی رضا روحانی، سخنگوی کمیسیون رسیدگی به شکایات انتخاباتی دیروز در نشست خبری مشترک در کابل همچنان گفتند که آرای صندوق‌ها، مراکز و محلات رای‌دهی که اوراق رای‌دهی در آن بدون فهرست رسمی، بدون بایومتریک و فهرست قلمی که با فهرست رسمی مطابقت نداشته باشد، و نیز بدون نمایندگان کمیسیون‌های انتخاباتی و ناظران انجام شده باشد، اعتبار ندارد.

این در حالی است که پیش از این دو کمیسیون برسر شمارش آرای بایومتریک نشده دچار اختلاف شده بودند.

کمیسیون رسیدگی به شکایات انتخاباتی به روز شنبه ٦ عقرب اعلام کرده بود که آرای بدون بارکود بایومتریک اعتبار ندارد.


به دنبال آن، کمیسیون مستقل انتخابات گفت که کمیسیون شکایات انتخاباتی صلاحیت ندارد که آرای بایومتریک نشده را باطل اعلام کند.

حفیظ‌الله هاشمی، سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات گفته است که کمیسیون رسیدگی به شکایات انتخاباتی باید بر اساس لایحه‌ها و طرزالعمل‌هایی که کمیسیون انتخابات تصویب می‌کند، تصمیم بگیرد و عمل کند.

سخنگویان کمیسیون‌های انتخاباتی در اعلامیه‌ی مشترک‌شان به مدیران و کارمندان کمیسیون‌های انتخاباتی هشدار دادند که هرگاه در نتیجه‌ی بررسی‌های مبتنی بر اسناد و مدارک مؤثق ثابت شود که آن‌ها در اجرای وظایف‌شان غفلت و یا مرتکب جرم انتخاباتی شده و پروسه‌ی ملی انتخابات را صدمه زده‌اند، به منظور تعقیب عدلی، به ارگان‌های عدلی و قضایی معرفی خواهند شد.

## ژوند

## د مېرمنې احساساتو ته مو درناوی وکړئ!



معلومه خبره ده چې هر انسان (نر او ښځه)، احساسات او عواطف لري چې باید ورته احترام وشي.

که د غوسې په وخت کې د خپلې مېرمنې خبرې ور پرې کړی او منعه یې کړی؛ په اصل کې مو د هغې احساساتو ته درناوی نه دی کړی.

لکه په لاندې ډول:

- ستا اندېښنه بې معنا ده
- ستا غوسه ما ته بې ارزښته ده

او...

کله چې د مقابل کس احساساتو ته درناوی نه کوو، په اصل کې هغه لا ازرده او غوسه کېږي.

ډېرې وخت داسې هم کېږي چې مقابل کس د زیاتې غوسې له امله له تاسو څخه لرې شي او بیا به هېڅکله هم ونه شی کولای چې خپل یې کړی.

دا خبرې ستاسو د ژوند خوند او رنګ له منځه وړي او ژوند مو پر یوه زندان بدلوي. که خدای مه کړه کله مو په ژوند کې یو بل ته د سختو خبرو په وسیله منځ درز پیدا شو، نو هیله ده چې یو بل ته ښښنه وکړئ، څو یو بل له لاسه ورنه کړئ.

په ارامۍ سره خبرې کول، د یو بل ستونزو ته په پوره دقت سره غوږ نیول او یو بل ته ښښنه کول، دې ستونزو ته د حل تر ټولو ښه لاره ده.

## منه؛ د روغتیا لپاره ګټوره مېوه!

له روغتیایي اړخه منه تر ټولو پیاوړې او غوره مېوه ګڼل کېږي. په نړۍ کې لومړی چین او دویم امریکا د منې ستر تولیدوونکي هېوادونه دي.


دا مېوه ګڼې ګټې لري او کولی شي انسان له مهلکو ناروغیو وژغوري. دلته د منې له ځینو ګټو یادونه کوو چې په روغتیا کې ډېر رول لري:

### ۱- زړه ته ډېره ګټوره ده

منه د انټي اکسیدانت تر ټولو غوره سرچینه ده. دا مېوه په خپل ترکیب کې په ډېره اندازه پولیفینول (Polyphenol) او فلوو نایډز (Flavonoids) لري، هغه چې د زړه د روغتیا لپاره ډېر ګټور دي. دا مېوه د بدن د بېلابېلو منرالونو او پوتاشیم اړتیا پوره کوي. یادې مادې د زړه د روغتیا لپاره اړینې ګڼل کېږي. په ورځني ډول یو ګیلاس د منې اوبه د زړه روغتیا او فعالیت نورمال ساتي.

### ۲- د سالنډۍ مخنیوی کوي

د منې یو له غوره خاصیتونو دا دی چې دغه مېوه په ځانګړې اندازه فلوونایډز (Flavonoids) لري. د فلوونایډز نومې مواد د سالنډۍ د مخنیوي لپاره یو له غوره درملو څخه ګڼل کېږي. پر دې سربېره فلوونایډز د انسان سږي پیاوړي کوي. څېړنو ثابته کړې ده چې د منې د اوبو څښونکي د هغو کسانو په پرتله ډېر روغ او پیاوړي وي، کوم چې دا اوبه نه څښي.



### ۳- هډوکي غښتلي کوي

منه په ډېره اندازه ویټامین سي (C)، اوسپنه (Iron)، برون (Boron) او نور ګټور مواد لري. یاد ګټور مواد د انسان هډوکي پیاوړي او غښتلي کوي.